1390/5/9

**د آسیا د اسپني ستر کان( حاجي ګک) به ډېر ژر داو طلبی ته وړاندې شي.**

په باميانو ولايت کې د ټولې آسيا په کچه د اوسپنې د ستر کان( حاجي ګک) سمه سپړنه کولای شي د هېواد اقتصاد ته خورا وده ورکړي .خو د دغه کان په سم مديريت کې د افغان دولت ناتواني به دغه هېله له منځه يوسي. د افغانستان پر بشپړتيا د څار اداره دغې موضوع ته د اشارې ترڅنګ خبرداری ورکوي، چې کېدای جګړه ماران د دغه کان د منافعو لاسته راوړلو لپاره په تاوتريخوالي لاس پورې کړي.

د حاجي ګک د اوسپنې کان، چې د افغانستان په امن ولايت باميانو کې پروت دی، دوه ميليارده ټنه معدني توکي لري، چې ارزښت يې کابو ۳۵۰ ميليارده ډالره تخمين شوی دی. د افغانستان پر بشپړتيا د څار اداره وايي، په داسې حال کې، چې په شفافه توګه د کانونو د استخراج لپاره د وزارتونو په کچه تمايل شته، خو افغان حکومت د دغه شفاف پلي کولو لپاره وړتيا او ظرفيت نه لري .

د افغانستان پر بشپړتيا د څار اداره:

»افغان حکومت د دې وړتيا نه لري، چې په ډاډه توګه د حاجي ګک د کان مديريت په سمه توګه ترسره کړي او د هېواد راتلونکې لپاره اغيزمنه توبنه چمتو کړي«.

څه موده وړاندې، نړيوال بانک افغان حکومت ته ۵۲ مليونه ډالره ورکړل، څو په راتلونکيو درېيو کلونو کې د طبعي زېرمو د شفافيت او اغيزمنتيا د مديريت په موخه يې وکاروي. خو د افغانستان پر بشپړتيا د څار اداره وايي، چې د افغان حکومت په ادارو کې تر بل هر هېواده اداري فساد پراخ دی. دغه اداره همدارنګه د هېواد په کانونو باندې د جګړه ماران له يرغل انديښنه ښيي او خبرداری ورکوي، چې جګړه ماران به هڅه وکړي څو د کانونو د ايستلو ګټه خپله کړي او دغه مسله به د هغوی ترمنځ د جګړې لامل شي. ياده اداره سپارښتنه کوي، چې د کانونو په برخه کې پانګه اچوونکي باير تجربه او ظرفيت ولري. که څه هم په رسمي توګه د حاجي ګک د کان تړون چاته نه دی ورکړل شوی د ګڼ شمېر هندي شرکتونو په شمول ۱۷ شرکتونه هڅه کوي، چې د سپړلو تړون يې ترلاسه کړي.

/ http://www.afghannews.tv/Pashto/1390/asad/9